مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوالان: ډاکټر محمد حسین پاپلي یزدي
او ډاکټر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۲/۰۱/۰۴

# لویه تلوسه

دوه ویشتمه برخه

## د اوبو بین المللی قوانین

**دوهمه برخه**

**دویم فصل**

**په هریرود حوضه کې د پراختیا ډېر مهم بنستیز اقدامات:**

که چېرې ټاکل شوې وي دغه تولیزه مفکوره عملي شي په لاندي شرحه ځینې عمده اقدامات اړین دي:

۱ ـ په هریرود حوضه کې د ځمکي چمتو کولو طرحي اجرا کول

یادونه وشي چې افغانستان کې «د ځمکي چمتوکول او پراختیا» (R.D. P. P) طرحه د ښاري پراختیا په وزارت کې، په ډېره لوړه سطحه او د ځو بهرنیو هیوادونو په فني همکارۍ، له دې ډلې د جاپان، د سیمه ییز ماستر پلان په بنه چمتو شوې ده. دغه طرحه کولای شي په هریرود حوضه کې د ایران او افغانستان دواړو دولتونو ترمنځ سیمه ییزې ګډې پایداره پراختیا له موخو سره همغږه شي نو لدې کبله وراندیز کوو:

الف - په هریرود حوضه کې افغانستان، ایران او ترکمنستان له خوا ، د کلیو د پراختیا او د تولیدي، سوکالیزې او د زدکړې د خدماتو شبکې غځولو لپاره ، لازم اعتبارونه کار لاندې ونیول شي.

ب ـ د سیمي دولتونه به هڅه وکړي چې د حوضې پراختیا لپاره له ملګروملتونو، او آسیايي پراختیایي بانک او د هغوی له اړوند سازمانونو او نورو دولتونو او ان جی یو- ګانو څخه مرستندویه اعتبارونه ترلاسه کړي.

**۲ ـ د هریرود د سیند غاړو(څنډو) رغونه**

د هریرود حوضې د سیمه ییزی پراختیا سازمان باید د سیند د څنډو رغونه تر کار لاندې ونیسي. د ۱۲۰ کیلو مترو په واټن د هریرود منځنی پلنوالی کابو ۷۰۰ متره دی (د هرات ختیځ له شل کیلو متری بریده د ایران تر پولې پورې). په ځینو سیمو کې د سیند پلنوالی ۲ کیلو متره او په ځینو مواردو کې دوه نیم کیلو مترو ته رسیدلی دی. سیند په خپل همدې پلن بستر کې لوبیږي او د سیندګخونو( غاړی – سواحل) د تخریب او ورانی لامل ګرځي. سربیره پردې سیلاوونه هر کال له سیند څخه رابیلو شویو ویالو او لښتیو سربندونه هم ورانوي. دغه کار د دې لامل ګرځي چې هم ډېرې ځمکې دکټې ترلاسه کیدو له بهیره ووځي. او هم د ویالو د سربندونو بیا رغونه په دولت او کروندګرو زیات مخارج تحمیل کړي. له سیند څخه د ځمکو ژغورنه یوه ستره پانګه ده چې کولای شي اقتصادی څرخې ته وارده شي.

۳ - د ساحلي ځمکو د اضافي اوبو وېستل (زهکشی)

د هریرود سیند د څنډو ځینې ځمکې ککړې او نوجنی شوې دي(زیموالي) دغه نوجنه ککړتیا (زیم) د دی لامل شوی چې اړوند سیمې د کرلو وړ نه وي. د هریرود سیند د څنډو دځمکو اضافي اوبو لېرې کول(وېستل) هغه مسئله ده چې باید د هریرود حوضې د سیمه ییزې پراختیاې سازمان یې تر کار لاندې ونیسي. کروندګر کولای شي په مشارکتي بڼه هم په رغونه او هم د اوبو بل لوری ته د لیږدونې(وچولو یا راوېستلو) په چارو کې ونډه واخلي. په دغه صورت کې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

افغانستان د کليو د بیا رغوني او پراختیا وزارت باید ملګرو ملتونو تر نظر لاندې «د ملي پیوستون برنامې» پر محور کلیوال جوړښتونه غښتلي کړي. د کرهنې او نويو کارونو په خاطر کروندګرو لپاره د تصویب شوې کرکیلې بیلګې په چوکاټ کې د دودوني د زدکزده کولو اقدامات ترسره شي.

**۴ ـ د ژورو او نیم ژورو څاګانو ویستل:**

د هرات دشتي د ځمکلاندې اوبزیرمو (سفره) پورته والي او د ځينو ځمکو د زیموالي (نوجن کېدو) په علت ښکاري داسې چې د ځمکلاندې اوبو لګونه په تېره په زیمناکو سیمو کې د اوبه زیرمو سطحې د ښکته کولو یوه حللاره وي. په هر صورت په اوسنیو شرایطو کې د هرات په دشته کې د څاګانو ويستل، یوه هغه حللاره ده چې د هریرود حوضې مشارکتي پراختیا سازمان يې باید په پام کې ونیسي. د څاګانو اوبه کيدی شي د دشتي د کرکیلې اوبو سره يو ځای شي. دغه کار به په دشته کې د تعادل رامنځ ته کولو ترڅنګ دغه فرصت هم برابر کړي چې د حوضې وتو لارې کرنيز اقتصاد ته له زیان اوړیدو پرته تنظیم شي. که چېرې دغه تصمیم عملي شي، ایران او ترکمنستان کولای شي څاګانو لپاره د لازمي انرژی په برابرولو کې اساسي رول ولري. باید تل د دشتي د متعادل کولو برنامه تعقیب شي.

**۵ ــ د لارې او ارتباطاتو د شبکو غځول:**

الف ــ د خواف ــ هرات د اوسپنې پټلی ډېر ژر بشپړول.

ب- د سیمه ییز مشارکت د ټیکاومنې پراختیا سازمان او د بین المللی سازمانونو او خصوصي برخې د اعتبارونو په ملتیا د هرات دشتي کلیوالو لارو د شبکې بشپړول.

**۶ ـ صنعتي مالداري:**

د سیمې اقتصادي پراختیا به غوښې او شېدو ته د تقاضا د لوړولو لامل شي. غنم، اوربشې او شولې(وریزې) د هرات په دشته کې د کرهنې صنعتي الګو جوړوي د ډېرېدو لامل شوَی. د سیمه ییزې مشارکتي پراختیا ګام اخیستو په صورت کې د شېدو چمتو کول او ورسره د اړوند صنایعو او د غوښې د تولید په موخه د غټ څاروي د صنعتی روزنځایونو (فارمونو) جوړول باید د عمده موخو برخه وي. د لویو څارویو ساتنی لپاره مساعده آب و هوا پخپله یوه مساعده بیخبنا ده. د قندو چوغندرو د کرنې په صورت کې، د جوغندر تفاله، او غلیظه توره پاتې شوني زاوله (ملاس) کیدای شي د څارویو واښو ته ځانګړې شي. د څارویو د واښو کرنه او د مرغانو دانې هم کیدی شي د کرکېلې له موخو څخه وي.

**۷ ــ کرکیله او صنعت:**

پردې برخه پانګونه کېدی شي، د مدیریتی او فنی مسئلو د رعایتولو په شرط، ګټوره وي. د کرنې او صنعت پراختیا باید د هرات دشتي د اصلي موخو برخه وي.

ایران او ترکمنستان دولتونه باید نه یوازې په پانګونه کې برخه واخلي باید په لومړي فاز کې د کرهنې د اومو محصولاتو او په دوهم فاز کې د تبدیل شویو محصولاتو د پیرودنې په میزان کې خپله ونده مشخص کړي.

قرار داد باید پداسې ډول وي چې افغاني کروندګر ډاډمن وي چې محصولات يې پلورل کیږي او ایران او ترکمنستان باید ډاډمن وي چې اړتیاوې يې برابریږي. پدې سربیره افغانستان باید ډاډمن وي چې د هغه د حاکمیت د حقونو له ساتنې سره جوخت سیمه اییزه مشارکتي پراختیا په بریالۍ توګه پر مخ ځي. ایران ترکمنستان هم باید ډاډمن وي چې له خپلې پانګونې څخه به ګټه ترلاسه کړي او سربیره پر ثابتي حقابې به یو مقدار اوبه په وړیا توګه واردې کړي.

**۸ ـ په سیمه کې د لږو اوبو مصروونکو صنایعو پراختیا:**

د هریرودحوضې د سیمه ییزې پراختیا په طرحه کې باید هڅه وشي په حوضه کې هغه صنایع پراختیا وموميي چې لږی اوبه مصرفوي . اوبه باید د تولو چارو د سنجش او ارزونې اصلي محور وي. صنایع باید د چاڼ شویو ککړو (


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پساب) اوبو او د لګول شویو بیرته ترلاسه شویو اوبو (کاریدو وړ) پر څرخېدونکو سیستمونو سمبال وي . سربیره پر دي، په هره برخه کي، هغه صنعت انتخاب شي چي ډېري لږي اوبه مصرفوي.

**۹ ـ د پولي او سوداګری اړوند مسئلو هواری:**

د هریرود سیمي د مشارکتی پراختیا ماډل کولای شي د افغانستان، ایران او ترکمنستان دریو هیوادونو ترمنځ د لوېي سیمه ییزي پراختیا د یوه موډل رامنځ ته کولو لامل شي. پدی لاره کي زیاتي ستونځي پرتي دي هغه لوېي موخي ته تر رسیدو پوري باید دریو هیوادونو ترمنځ د پولي او ګمرکي قوانین، په ځانګړي توګه په هریرود حوضه کي د تولید شویو کرنیزو محصولاتو د مبادلی په برخه کي، څه په افغانستان کي څه په ایران کي او څه د ترکمنستان په تجن سیمه کي، حل او فصل شي.

د کشف رود دشتي څخه هرات دشتي ته د خوراکي صنایعو د کارخونو د لیږدوني مقررات (هغه ډله کارخونی چي بین المللی ستېنډرډونو سره سمون خوري او د افغانی لوری د رضایت وړ دی) هم مشخص شي. په هر صورت کي له پولي او ګمرکي مسلو هواری پرته به سیمه له ستونځو سره لاس او ګریوان وي.

**د افغانستان دولت له خوا لازم بنسټیز پراختیایي ګامونه:**

لازمه ده د دغو اقداماتو تر څنګ بایده ده د بیخ بنایي پراختیا چاري چي د افغانستان د حاکمیتی کارونو برخه ده په هریرود حوضه کي د ننه (افغانستان برخه) په لاندي شرحه تر سره شي:

۱ ـ افغانستان دولت هڅه وکړي چي د افغانستان پارلمان په هرات دشته کي د مالک او بزګر د اړیکو سمون لپاره قوانین نوي او اصلاح کړي. تولینیزو سمونتیاو او د کروندګر او مالک د اړیکو له اصلاح بغیر د هرات دشتي کرنیزه پراختیا به له ستونزو سره مخامخ شي. په اوسنیو شرایطو کي د ځمکو مهمه برخه غاییو مالکانو پوري تړاو لري چي د ځمکي او اوبو د مالکانه ونډي په عنوان کله کله ان ۵۰ سلنه محصول ترلاسه کوي. د ارباب رعیتی سیستم له اصلاح کولو د پر مختللی ټیکنالوژی له واردولو پرته، هرات دشتي ته په پاسنیو (سطحی) او ځمکلاندي اوبو د اوبو لګوني د ماډرني شبکي جوړول، د ځمکي هم سطحه کول او د پانګوني صنعتي کرکیلی پر لور حرکت به له جدي ستونزو سره مخامخ شي. دغه کار لدي کبله چي یوه کورنی مسله ده اړینه ده چي د افغانانو له نظر سره سم عمل وشي.

۲ ـ د کرنیزو ماشین آلاتو پیرودلو لپاره لازم اعتبارات برابر شي.

۳ ـ د سنتي ویالو رغونه ګرندی شي.

۴ ـ ځمکي لاندی اوبه زیرمي څخه ګټه اخیستنه باید په هرات دشته کي له انډولوونکي پلان سره مل وي یاني ځمکلاندي اوبو څخه د کار اخیستني یوه اصلی موخه، د دشتي د خړو ویستل( زیم منځه وړل) او د هریرود سیند د څنډو د ځمکو اصلاح کول دي. دغه کار نباید د ځمکي لاندي اوبو د اوبزیرمو د سطحي له ضروری بریده د زیاتي ښکته کیدو او ټیټېدو لامل شي. په اوږد مهاله کي د هرات دشت نباید هاغه کړکیچ سره لاس و ګریوان شي چي مشهد دشت ور سره مخ شوي ده.

۵ ـ د افغانستان د کلیو د پراختیا وزارت، چي همدا اوس هم په فعاله توګه ، د ملي پیوستون د پروژو په لړ کي د کلیو چارو په اداره کي د کلیوالو د راګډولو په چارو کي، په پراختیایي چارو لګیا دی، غښتلی او ځواکمن شي.

نوربیا

**د مرغاب سیند**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ